# څوک به د دیموکراتیکو ټاکنو ګټونکی شي؟

(ژباړه)

## خبر:

**Maja Kocijancic د اروپایي کمیسیون ویاند** د **daily press** پہ کنفرانس کې چې په اروپايي کمیسیون کې داير شوی و وويل چې دوی د ترکيې ټاکنې چې د تېرې يک شنبې په ورځ ترسره شوې تعقيب کړې. د اروپایې کمیسیون ویاند**Maja Kocijancic** په ټاکنو کې د رايه ورکوونکو دغه پراخ ګډون خورا مهم وګڼلو او ټينګار يې وکړ چې په ټاکنو کې د خلکو په پراخه کچه ګډون له ډېموکراسۍ څخه د خلکو د خوښۍ ښکارندويي کوي.

## تبصره:

دغه محلي ټاکنې چې د مارچ په ۳۱مه د تېرې يکشنبې په ورځ په ترکيه کې ترسره شوې، پای ته ورسېدلې. د دغو ټاکنو پايلې تر اوسه پورې په رسمي توګه نه دي اعلان شوې. کله چې دغه مقاله خپره شي نو کېدای شي چې پايلې هم په رسمي توګه اعلان شي، نورو ته ورته دغه ټاکنې به هم ګټونکي او بايلونکي ولري

لهAK او MHP ګوندونو څخه د خلکو د ډېر ملاتړ له امله دې ګوندونو ډېرې رايې لاسته راوړې. **د AK** ګوند تر نورو ګوندونو زياتې رايې ګټلې دي او دا چې دوی په انقره کې بايللې ده او همدارنګه د غير رسمي پايلو له مخې يې شايد استانبول هم له لاسه ورکړی وي، چې د دوی لپاره ناخاپي حالت بلل کيږي.

ټولو ګوندونو او رهبرانو ويلي دي چې د ټاکنو يوازينې ګټونکې به ديموکراسي وي.

هغه حاکمان چې ټاکنې به وګټي او هغه حاکمان چې ټاکنې به وبايلي، په يوه خوله به ووايي چې ټاکنې ديموکراسۍ وګټلې.

د لوېديځو هېوادونو(امريکا) او اروپايي ټولنې رهبرانو يو ځل بيا ترکيې ته په ټاکنو کې د زيات شمېر خلکو د ګډون کولو لپاره د مبارکۍ پيغامونه واستول او ويې ويل چې بايد د خلکو ډيموکراټيک نومول شويو ټاکنو ته احترام او درناوی وشي.

په بله وينا لوېديځ ځان د ديموکراسۍ مرکز او زانګو بولي او هڅه کوي چې د ډيموکراسۍ درسونه او مشورې نورو ته هم ورکړي.

د مارچ په ۳۱مه د محلي ټاکنو شمېر د مخکينيو محلي او عمومي ټاکنو د ګډون کوونکو د شمېر په پرتله کم و او له ۱۵،۵ ميليونو څخه زياتو کسانو رايه نه ده ورکړې چې دغه حالت له ديموکراسۍ سره د ترکيې د خلکو د نږدېوالي د کمېدو کچه په ډاګه کوي.

کابو ۱،۵ ميليونه رايې باطلې دي دغه حالت په ډاګه کوي چې خلک د ګوندونو او رهبرانو په ژمنو بې باوره دي او خلک د دوی په ريښتنولۍ اعتماد او باور نه لري. د پايلې په توګه خلک په دې باور نه لري چې ټاکنې هغه څه دي چې هر شي ته بدلون ورکړي.

ډير ښه نو د دې پايلو په بنسټ څوک ګټونکي دي؟

هغه څوک ګټونکي نه دي چې د ټاکنو د پايلې په ډاګه کېدلو سره يې په توره تياره کې نارې وهلې، چې (ديموکراسي ګټونکې ده). بلکې هغه کسان ګټونکي دي چې له ټاکنو مخکې يې ويل: ديموکراسي يو کفري نظام دی او ديموکراسي د اسلام لپاره نه ده او ديموکراسي په حقيقت کې يو تاريخي دروغ دي، هغه کسان بريالي دي چې هغو نوماندانو ته يې رايه نه ده ورکړې، چې څه الله حرام کړي هغه حلال ګڼي او حرامو ته اجازه ورکوي.

هغوی بريالي دي، چې په حرامو کې ګډون نه کوي او هر هغه څه چې په هغه کې شک وي له هغه څخه ځان لېرې ساتي، هغو کسانو ګټلې چې ټولو منکراتو ته منکر وايي او د ان معتدل حالت(مصلحت) ته هم نه وايي، هغو کسانو ګټلې چې د خپلو ګټو په پام کې نيولو پرته شرعي حکم پلی کوي.

**د حزب التحرير مرکزي مطبوعاتي لپاره**

**ليکوال: محمود کار د حزب التحرير ولايه ترکيې مطبوعاتي دفتر رييس**